IslamHouse.com

Osoul Center



Download From; Aghalibrary.com

Pashto
پښتو

# د شیعګانو عقیده

ليکوال: عبدالله بن محمد السلفي
ژباړن: لقمان حکيم حکمت

*Download From; Aghalibrary.com*

# من عقائد الشيعة

تأليف
**عبدالله بن محمد السلفي**
ترجمة
**لقمان حکیم حکمت**
مراجعة
**عبدالرحيم سلطان**

PASHTO
بشتو

***Download From; Aghalibrary.com***

*Download From; Aghalibrary.com*

مركز أصول
Osoul Center
www.osoulcenter.com

أُعد هذا الكتاب وصمِّم من قبل مركز أصول، وجميع الصور المستخدمة في التصميم يملك المركز حقوقها، وإن مركز أصول يتيح لكل مسلم طباعة الكتاب ونشره بأي وسيلة، بشرط الالتزام بالإشارة إلى المصدر، وعدم التغيير في النص، وفي حالة الطباعة يوصي المركز بالالتزام بمعاييره في جودة الطباعة.

+966 504 442 532
+966 11 445 4900
+966 11 497 0126
P.O.BOX 29465 Riyadh 11457
osoul@rabwah.com
www.osoulcenter.com

بسم الله الرحمن الرحیم

*Download From; Aghalibrary.com*

*Download From; Aghalibrary.com*

# لړلیک


| | |
|---|---|
| شیعګان کله راښکاره شول؟ | ۹ |
| شیعګانو ته ولې روافض ویل کیږي؟ | ۱۱ |
| په امامت کې شیعګان څه عقیده لري؟ | ۱۵ |
| په خپلو امامانو کې د شیعګانو عقیده؟ | ۱۹ |
| د رجعت عقیده چې شیعګان پرې ایمان لري؟ | ۲۱ |
| د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه و باره کې شیعګان څه عقیده لري؟ | ۲۳ |
| د سنیانو اړوند شیعګان څه عقیده لري؟ | ۲۷ |
| د شیعګانو په نیز (تقیه) څه ته ویل کیږي؟ | ۲۹ |
| د عاشوراء په ورځ کې شیعګان څه عقیده لري؟ او دهغوی په نیز یې څه فضیلت دی؟ | ۳۳ |
| د رافضه شیعګانو په نیز د (طینه) عقیده څه شی ده؟ | ۳۵ |
| په متعه کې د شیعګانوڅه عقیده ده او خومره غور ده؟ | ۳۷ |
| په بیعت کې شیعګان څه عقیده لري؟ | ۴۱ |
| د اهل السنت او شیعګانو ترمنځ د خلاف اسباب څه شی دي؟ | ۴۳ |


**Download From; Aghalibrary.com**

*Download From; Aghalibrary.com*

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه وسلم تسليما كثيرا أما بعد:

## شيعګان کله راښکاره شول؟

شيعګان هغه وخت منځ ته را اغلل چې د عبدالله بن سبأ په نوم يو يهودي راښکاره شو، او د ال البيت (د نبوت کورنۍ) سره يې د مينې او محبت ګمان لرو، په علی رضي الله عنه کې يې سخته غلو وکړه دعوه دنګله يې واچوله چې دهغه په خلافت نبي صلی الله عليه وسلم وصيت کړی دی او بيا يې د ربوبيت ترمرتبې هم پورته کړ، په دې باندې د شيعګانو کتابونه خپله هم ګواهي ورکوي قمي (شيعه) يې په خپل کتاب (المقالات والفرق)کې يې په وجود اعتراف کوي او هغه لومړی سړی يې بولي چې دعلی رضي الله عنه په امامت او بېرته راتګ باندې يې عقيده لرله، ابن سبأ يهودي لومړی هغه څوک دی چې ابوبکر او عمر او عثمان بلکې ټولو صحابه کرامو رضي الله عنهم ته يې سپکې ستغې (طعن) په ځرګند ډول کول، په همدې باندې نوبختي په خپل کتاب فرق الشيعة کې او کشي په کتاب (رجال الکشي) کې او په معاصرو شيعګانو کې يې په وجود باندې محمد علی المعلم په خپل کتاب عبدالله بن سبأ الحقيقة المجهولة هم اعتراف کړی دی دا کتاب په اصل کې د يو شيعي پر کتاب (عبدالله بن سبأ و أساطير أخرى) باندې رد دی، چې مرتضی عسکري ليکلی دی هغه په خپل کتاب کې د عبدالله بن سبأ له شخصيت څخه په ټپه انکار کړی دی.

او اعتراف د دليلونو سرخيل دی، سره له دې چې مذکوره خلک د شيعګانو مذهبي علماء دي.

Download From; Aghalibrary.com

*Download From; Aghalibrary.com*

# شيعګانو ته ولې روافض ويل کېږي؟

شيعګانو ته روافض ځکه ويل کيږي چې دوی زيد بن علي بن الحسين ته راغلل او ورته يې وويل: چې له ابوبکر او عمر نه براءت اعلان کړه، ترڅو مونږ ستا په ملګرتيا کې پاتې شو،

هغه ورته وويل: ابوبکر او عمر مې د نېکه ملګري ول، او زه ورسره مينه لرم،

شيعګانو ورته وويل: (اِذاً نَرْفَضُکَ) بيا به دې مونږ پرېږدو

نوځکه ورته روافض ويل کيږي،

اوڅوک چې ورسره په بيعت کې پاتې شول نو (زيديه) ورته وويل شول،

رافضي شيعګانو ته اماميه، اثنا عشريه او جعفريه هم ويل کيږي

د شيعګانو په نېز د (بداء) عقيده څه ته ويل کيږي چې باور پرې لري؟

(بدا) په اصل کې د پټوالي نه وروسته ښکاره کېدو ته ويل کيږي، او د نوي فکر او رايې نشأت ته (بداء) هم ويل کيږي

خو په دواړو معناګانو کې د بداء مطلب دا دی چې مخکې ورنه جهالت او ناپوهي وي، د الله پاک په حق کي د(بداء) دواړه معناګاني هيڅ امکان نه لري خو بيا هم شيعګان يې الله ته منسوبوي، له ريان بن صلت نه روايت دی هغه وايي:

ما له رضا نه واورېدل چې ويل يې الله هيڅ پېغمبر نه دی راستولی مګر په دې چې شراب حرام کړي اوپه (بداء) د خلکو عقيده جوړه کړي، او له

ابوعبدالله علیه السلام نه روایت کوي: د بداء په څېر بل هېڅ نشته چې د الله عبادت پرې وکړی شي.

مالک الجهني وایي: ما له ابوعبدالله علیه السلام نه اورېدلي دي ویل یې: که خلکو ته د دې معلومات وی چې په بداء کې خبرې کول څومره ثواب لري نو په بداء کې به له خبرو نه نه وی ستړي شوی.

مسلمانه وروره! وګوره چې شیعګان الله پاک ته څنګه جهل او جهالت منسوبوي، حالانکه الله پاک د خپل ځان متعلق وایي:

﴿قُل لَّا يَعۡلَمُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ٱلۡغَيۡبَ إِلَّا ٱللَّهُۚ﴾ [سورت نمل: ٦٥]

ورته ووایه چې په اسمان او ځمکه کې له الله نه بغېر نور څوک پټ او پناه نه پېژني.

په هغه قرانکریم کې شیعګان څه عقیده لري چې زمونږ مخې ته پروت دی او الله یې په خپله حفاظت کوي؟

رافضه طبقه خلک چې په دې وخت کې په (شیعګانو) شهرت لري وایي: کوم قران چې له مونږ سره دی، بیخي هغه قران نه دی چې په پیغمبر صلی الله علیه وسلم باندې الله پاک نازل کړی و، بلکې په دېکې تحریف او تبدیل شوی دی، لاس وهنې پکې شوي دي.

د شیعګانو جمهور محدثین پر دې عقیده لري چې په قران کې لاس وهنې شوي دي، دا خبره نورې طبرسي په خپل کتاب (فصل الخطاب فی تحریف کتاب رب الأرباب) کې هم ذکر کړې ده، محمد بن یعقوب کلیني په خپل کتاب (اصول الکافي) کې د (أنه لم يجمع القران كله الا الأئمة) باب لاندې له جابرنه

روايت کوي چې له ابوجعفر نه يې اورېدلي دي ويل يې ، په خلکو کې که هرڅوک د ټول قران لکه څنګه چې الله نازل کړی دی د راغونډولو دعوه ولري نو غټ او سوچه دروغجن دی له علي بن ابي طالب او له هغه نه وروسته امامانو نه بغېر بل هېڅ چا قران لکه څنګه چې الله نازل کړی دی هېڅ چا نه راغونډ کړی دی او نه يې حفظ کړی دی.

هشام بن سالم له ابوعبدالله عليه السلام څخه روايت کوي هغه وايي: کوم قران چې جبريل عليه السلام محمد صلى الله عليه وسلم ته راوړی دی اولس زره ايتونه يې لرل.

او ددوي شيخ مجلسي ددي روايت توثيق کړی او په خپل کتاب مرآة العقول کي وايي: حديث موثوق او صحيح دی.

بيا وايي: چې دا روايت صحيح دی خو پټه دي نه وي چې دا روايت او ددي په څير نور ډير صحيح او صريح روايتونه شته چي د قران په کمي او تغيير باندي دلالت کوي، اودا روايتونه زما په نيز باندي تواتر معنوي درجي ته رسيږي.

د دې مطلب دا دی چې د کوم قران دعوه شيعګان لري له اوسمهال موجود قران نه يې ايتونه ډېر ول، سره له دې چې د قران د حفاظت ذمه دارې دري ځله الله پاک په خپله اخستې ده! نعوذ بالله.که څه هم د (تقيه) په بنسټ شيعګان د نورې طبرسي له کتاب نه براءت اعلانوي، خو د کتاب اړوند د شيعه علماو په سلګونو داسي اقوال شته چې دقران په تحريف او تبديل باندي کلکه عقيده لري، او په دي يي کلک ايمان دی خو شيعګان دا نه غواړي چي په قران کي د تحريف اړوند عقيده يي خلکو ترمنځ اله ګوله جوره کړي.



# په امامت کې شیعګان څه عقیده لري؟

د شیعګانو په نیز د امامت عقیده هغه اصل دی چې د ټولو حدیثونو مدار یې په همدې دی، او همدا یې د عقیدې بنسټ دی، د امامت عقیدوي اثر یې په فقهې او تفسیرونو او نورو علومو کې بیخي څرګند بریښي.

محمد حسین کاشف الغطاء د امامت تعریف داسې کوي:

امامت د نبوت په څېر الهي منصب دی، لکه څنګه چې الله پاک د نبوت او رسالت لپاره د خپلې مرضۍ له مخې خلک غوره کوي او د رسالت تایید یې په معجزاتو کوي چې د الله له پلوه معجزات د نص وجوبي حکم لري، همدا راز الله پاک د امامت لپاره هم خلک غوره کوي او خپل پېغمبر ته امر کوي چې په امامت یې نص خلکو ته واوروي، او له ځان څخه وروسته یې د خلکو لپاره فرمانروا وګماري (تعین کړي).

نعمة الله جزائري د امامت متعلق وايي: عام امامت له نبوت او رسالت څخه هم پورته مرتبه لري.

هادي طهراني یې اړوند وايي: امامت پر نبوت باندې تفوق لري، له دې کبله چې امامت دریمه مرتبه ده نو ځکه خو الله ابراهیم علیه السلام ته له نبوت او دوستانې څخه وروسته ورکړه.

تر دې چې امامي شیعګانو د شهادتینو چې د ګردو نېکو عملونو مدار او قبول ورېسې تړل شوی دی ساقط ګرځولي دي او پر ځای یې ورله مزعوم

امامت قابل اعتراف او بنسټ ګرځولی دی کليني په خپل سند باندې له ابوجعفر څخه روايت کوي هغه وايي ، اسلام پر پنځه شيانو جوړ شوی دی

لمونځ ، زکات، روژه، حج او ولايت، خو د ولايت په څېر بل څه ته دومره ترجيح نه ده ورکړل شوې، خلکو څلورو شيانو ته زياته ترجيح ورکړه خو ولې ولايت يې پر ځای پرېښود.

د اثنا عشري امامي شيعګانو په نېز ولايت عظيم قدر او احترام لري، تر دې چې اثنا عشري شيعګان د هغه چا په کفر او ابدي دوزخيتوب عقيده لري چې له ولايت نه منکر وي.

مجلسي په بحار الأنوار (٢٧ / ١٦٦) کې باب ايښې دی چې د ولايت له عقيدې نه بغير الله پاک هيڅ نېک عملونه نه قبلوي.

د بابويه ځوې قمي وايي:زمونږ په عقيده د علي عليه السلام او ورڅخه د وروسته امامانو له امامت څخه د منکر حکم داسې دی لکه د انبياؤ له نبوت څخه انکار کول.

بيا وايي:په هغه چا کې زمونږ عقيده چې علي عليه السلام په امام مني خو د نورو امامانو څخه منکر وي داسې دی لکه د ټولو انبياؤ نبوت چې مني خو د نبي صلى الله عليه وسلم نبوت نه تسليموي.

کوم مسلمانان چې له امامت څخه منکر دي اړوند يې شيعه عالم طوسي د شيعګانو عقيده داسې ذکر کوي.

د امامت نه منل داسې کفر دی لکه نبوت نه منل چې کفر دی،ځکه چې په دواړو (امامت او نبوت) باندې جهل يو شی دی.

بل شیعه عالم مفید داماميي شیعګانو اجماع ذکر کړې ده چې څوک له امامت نه منکر وي هغه کافر او په جهنم کې به هم په ابدي توګه وي، هغه وايي: امامي شیعګان په دې متفق دي چې که څوک د یو امام امامت هم ونه مني او د الله د فرض کړي اطاعت څخه انکار وکړي نو دا سړی کافر، ګمراه، او د تل لپاره به په اور کې وي.

ګرانه لوستواله وروره ! وګوره چې امامي شیعګان د امامت او ولایت څخه منکر څنګه کافر بولي، سره له دې چې دوی یې خپله ثقل اصغر بولي، خو په قران کې د تحریف په عقیده قایل ته کافر نه وایي سره له دې چې دوی ورته بیرته ثقل اکبر هم وایي.



## په خپلو امامانو کې د شیعګانو عقیده؟

رافضي شیعګان عقیده لري چې امامان یې معصوم دي او په غیبو باندې علم لري،کلیني په اصول الکافي کې نقل کوي چې جعفر صادق وایي:مونږ دالله د علم خزانچیان یو مونږ معصوم قوم یو او خلک مو په فرمانبرداری باندې مامور دي او زمونږ له نافرمانۍڅه منعه راغلې ده د اسمان نه لاندې او د ځمکې پر سر په هر چا باندې مونږ د الله کامل حجت یو.

کلیني همدا راز په کافي کې د (أن الأئمة اذا شاؤا أن یعلموا عِلِموا) باب لاندې له جعفر الصادق نه روایت کوي فرمایي:

که امام وغواړي چې په څه شي پوهه شي پوهېدی شي، او چې کله مړ کیږي پخپل مرګ باندې خبر وي، او مرګ یې هم د خپل اختیار نه بغیر نه وي.

خمیني برباد شوی په خپل کتاب (تحریر الوسیلة) کې وایي:

هر امام مقام محمود او لویه درجه لري، امام داسې تکویني واک او اختیار لري چې د نړۍټول مخلوق یې د واک لاندې ذلیل وي.

بیا وایي: مونږ (دولس واړه امامان) له الله سره څه شمېر حالات لرو چې دغه حالتونه ورسره نه نزدې ملائک لري او نه کوم راستول شوی پېغمبر.

محترم لوستواله وروره ! که غواړې چې د شیعګانو او شرک او غلو څخه په سمه توګه وخبرېږې نو معاصر شیعي عالم د علی رضي الله عنه اړوند دا شعرونه ولوله:

أبا حسن أنت عين الإله

ابوحسنه! ته پخپله حق معبود يې

وعنوان قدرته السامية

او د حق معبود د قدرت او توان نښه يې

وأنت المحيط بعلم الغيوب

ته په ټولو غيبي امورو باندې شامل علم لرې

فهل تعزب عنك من خافية

ايا دا به سمه وي چې ستا له علم نه څه پټ شته؟

وأنت مدير رحى الكائنات

ته دټولو كائناتو د ميچن قابو كونكى يې

ولك أبحارها السامية

او د ټولې نړۍ لوى لوى سمندرونه ستا په واک کې دي

لك الأمر إن شئت تحيي غداً

واكټول ستا دى كه دې خوښه وي سبا ته هم پيدا كول كولى شې

وإن شئت تسفع بالناصية

او كه وغواړې نو د تندې له ويښتوو نه نيول كولى شې

## د رجعت عقیده چې شیعګان پرې ایمان لري؟

یواځې دا نه بلکې شیعګان د رجعت په نوم دیني بدعت هم لري، مفید (شیعه عالم دی) وایي: امامي شیعګان د ډېرو مړو په بېرته د وجوبي راګرځېدو عقیده لري.

د شیعګانو په ګومان رجعت دا دی چې اخر وخت کې به یې د (قائم) په نوم اخرنی امام راشي، له سرداب څه به راووځي او ټول سیاسي مخالفین به ذبح کړي، او شیعګانو ته به خپل هغه حقوق بېرته ورکړي چې د وخت په تېرېدو سره ترې نورو ډلوټپلو غصب کړي دي.

سید مرتضی په خپل کتاب (المسائل الناصریه) کې وایي: د مهدي (د دوی دولسم امام چې قائم ورته ویلی شي) په وخت کې به ابوبکر او عمر په ونه کې په دړا وځړول شي، او له دار وروسته به ونه وچه کړسه شي.

مجلسي په خپل کتاب (حق الیقین) کې له محمد الباقر نه نقلوي:

کله چې مهدي راشي نو ام المؤمنین عایشه به بېرته راژوندۍ کړي او حد به پرې قائم کړي.

دلته له رجعت څخه د شیعګانو مطلب د شیعګانو له دښمانو نه انتقام اخستل دي، پوښتنه دا ده چې د شیعګانو دښمنان څوک دي؟

مسلمانه وروره! راروان روایت کې به درته واضحه شي چې د اهل السنت والجماعت (مسلمانانو) سره شیعګان څومره حسد لري؟ او بېرته له یهودانو او نصرانیانو سره څومره مینه لري.

مجلسي په خپل کتاب (بحار الأنوار) د ابوبصير په روايت ذکر کوي چې ابوعبدالله علیه السلام ما ته وويل:

ای ابومحمده! لکه زه چې مهدي ته ګورم اود خپل اهل او عيال په ملتيا په مسجد السهله کې راښکته شي بيا ورته ما وويل: له اهل ذمه سره به څه کوي؟

هغه وويل: د رسول الله صلی الله علیه وسلم په څېر به ورسره روغه جوړه وکړي ،خو له پوره ذلت او هوان سره به ټيکسونه هم ادا کوي، ما ورته وويل: او له تاسو سره چې څوک دښمني کوي؟

هغه وويل بيشکه الله پاک به د دوي ويني مونږ ته رواه کړې کله چي زمونږ مهدي منتظر راشي، نن ورځ د دوي ويني په مونږ او تاسو باندي حرامي دي، خيال کوه چي څوک دي دوکه نه کړې، خو چې کله زمونږ مهدي منتظر راشي هغه به د دوي نه د الله پاک او دهغه د رسول او زمونږټولو دپاره بدله او انتقام اخلي.

وګوره مسلمانه روره د شيعګانو مهدي څرنګه د يهودو او نصارا سره روغه جوړه کوي، او د دوي په مقابل کې د اهل سنت والجماعت سره جنګ کوې.

# د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه و باره کې شیعګان څه عقیده لري؟

په صحابه کرامو رضي الله عنهم اجمعين کې د شيعګانو عقيده سپورې ستغې ويل او هغوی کافر ګڼل دي.

کليني په (فروع الکافي) کې له ابوجعفر څخه ذکر کړيدي هغه وايي: د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه وروسته د دريو صحابه کرامو نه بغېرټول مرتد شوي دي، ما وويل: کوم درې نه دي مرتد شوي؟

هغه وويل: مقداد بن اسود، ابوذر الغفاري او سلمان فارسي.

مجلسي په بحار الأنوار کې ذکر کړي دي چې د علي بن الحسين يو غلام وايي:

چې زه ورسره يوه ورځ ايکې يواځې وم، ما ورته وويل: پر تا مې حق جوړېږي چې ابوبکر او عمر باره کې راته کره او سم معلومات را کړې،

هغه وويل: دواړه کافران دي او هغه څوک هم کافر دی چې له دواړو سره مينه لري.

ابوحمزه الثمالي وايي: له علي بن الحسين څخه د ابوبکر او عمر اړوند وپوښتل شول هغه وويل: دواړه کافران دي او چې څوک ورسره مينه لري هم کافر دي.

دلته د ددي خبرې يادونه ضروري ده چې علي بن الحسين او اهل بيت ټول

ددي خبرو نه بيزاره دي بلکه دا خبري شيعګانو په هغوي باندي د ځانه دروغ ويلي دي، الله دي دوي مړه کي کوم طرف ته ګاږه روان دي.

تفسير قمي کې د (وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ)

(وينهى عن الفحشاء والمنكر والبغي) ايت لاندې ليکي فحشاء ابوبکر دی ، منکر عمر دی او بغي عثمان دی.

مجلسي په بحارالأنوار کې ذکر کوي: په ابوبکر او عمر او امثالو باندي يې د کفر ، دلعنت او کنځلو د ثواب دليلونه دومره ډېر دي چې په دې کتاب کې نه بلکې په ډېرو کتابونو کې به راغونډ نه شي، کوم دليلونه چې مونږ راوړي دي دهغه چا لپاره بسيا کوي چې الله يې سمې لارې ته د هدايت اراده کړي وي.

د عاشورا په ورځ دوي يو سپی راولي او عمر ورته وايي، بيا دغه سپی دوي په لرګو باندي وهي او په کاڼو يې ولي تردي چي مړ شي، بيا يوه چيلۍ راولي او عائشه ورته وايي، بيا شروع شي چي وژغنې تري وباسي، بيا يې په بوټانو او چپلو باندي وهي تر دي چي مړه شي.

همدغه شان شيعګان په هغه ورځ باندي چي عمر فاروق په کې په شهادت ورسيد د خوشحالۍ اختر لمانځي او د عمر فاروق رضي الله عنه قاتل ته د شجاع الدين بابا لقب ورکوې.

نو مسلمانه وروره! شيعګان څومره ډېر خبيث او کېنه ګر او له دين څخه وتلي او کافر دي چي له انبياؤ وروسته په غوره ترينو خلکو کې څه ډول ناکاره عقيده لري؟

چې الله پاک او رسول الله صلی الله علیه وسلم یې صفتونه کړي دي، ټول امت یې په عدالت او فضیلت اجماع کړې ده، تاریخ یې هم په جهادونو، اسلام ته په سبقت او خیریت باندې ښه ګواه دی.



## د سنیانو اړوند شیعګان څه عقیده لري؟

د شیعګانو عقیده دا ده چې د سنیانو شتمني او ويني دواړه مباح او روا دي صدوق (لوی شيعه دی) په خپل كتاب (العلل) كې د داود بن فرقد په روايت مسندا ذکر کوي: چې ما ابو عبدالله عليه السلام ته وویل: د ناصبیانو (سنیانو) باره كې څه وايې؟ هغه وویل: وينه يې حلاله ده خو زه دربانديې وېرېږم خو كه دېوال پرې راوغورځوې يا يې بحر ته وارتوې ترڅو دربانديې ګواهي ونه كړي او توان دې وي ويې كړه ما ورته وویل: په شمتني كې يې څه وايې؟

هغه وویل: چې څومره دې توان وي هومره ترې واخله، همدا راز شیعګان عقیده لري چې سنيان د يهودو او نصرانيانو نه هم سر سخته كافر دي، ځكه يهودان اصلي كافران دي او سنيان مرتد كافران دي، او د ارتداد كفر په اجماع سره غليظ كفر دی.

له دې كبله شیعګان د سنیانو په ضد د کفارو سره مرسته کوي او تاريخ په دې ډېرښه ګواه دی.

په (وسائل الشيعه) كې له فضيل بن يسار څخه نقلوي هغه وايي: ما له ابوجعفر نه وپوښتل چې ايا شيعه زنانه ناصب (سني) ته په نكاح وركولی شم؟

هغه وویل:نا سني خو كافر دی او نواصب اهل السنت والجماعت هغه چا ته وايي چې له علی بن ابی طالب رضی الله عنه سره دښمنی لري، خو ولې شیعګان بيا سنیانو ته نواصب وايي.

ځکه سنیان دابوبکر او عمر او عثمان رضي الله عنهم خلافتونه په علي رضي الله عنه باندې مقدم بولي.

او د درې واړو فضیلت په علي رضي الله عنه باندې د نبي صلی الله علیه وسلم د دور خبره ده.

## د شیعګانو په نیز (تقیه) څه ته ویل کیږي؟

د شیعګانو معاصر دین پوهه تقیه داسې تعریفوي: تقیه هغه قول او فعل ته ویل کیږي چې ته یې عقیده نه لرې چې له ځان او مال څخه دي متوقع ضرر دفع کړې او خپل کرامت خوندي وساتي.

کلیني په اصول الکافي کې وایي: ابوعبدالله علیه السلام وایي: ای ابوعمره ! نهه برخې د دین تقیه ده ، که څوک تقیه نه کوي دین هم نه لري ، په شرابو او مسح علی الخفین نه بغیر تقیه په هر څه کې روا ده.

کلیني له ابوعبدالله علیه السلام څخه دا هم نقلوي چې هغه وایي: پرخپل دین وډار شئ او پر تقیه یې حفاظت وکړئ څوک چې تقیه نه لري ایمان هم نه لري.

العیاذ بالله، د رافضه شیعګانو حال تر دې رسېدلی دی چې په تقیه سره له الله نه بغیر په بل چا لوړه او قسم هم خوري.

حر العاملي (لوی شیعه دی) په خپل کتاب (وسائل الشیعه) کې له ابن بکیر هغه یې له زراره او هغه یې له ابوجفر نه روایت کوې، ما ورته وویل: پر دغه خلکو زمونږ تګ راتګ دی، مونږ ته په خپلو شتمتنیو کې قسمونه راکوي او حالانکه مونږ یې زکاتونه ادا کړی وي، هغه وویل: ای زراره! چې کله ورڅخه ډار محسوس کړې نو چې څومره یې خوښه وه هومره ورته قسمونه وخوره.

ما وویل: درڅخه قربان شم ، طلاق او په عتاق هم ورته لوړه پورته کولی شو؟ هغه وویل:هو چې څنګه یې خوښه وي.

سماعه له ابو عبدالله علیه السلام نه روایت کوي چې فرمایي: که څوک د اضطرار او اکراه په صورت کې د تقیې په بنسټ لوړه او قسم وکړي نو بیخي نه ګناهګاریږي.

رافضه په تقیه باندې دومره یقین لري چې حتی شیعه مذهب له دې نه بغیر نه عملي کیږي، د تقیې اصول شیعګان سراً او جهراً کشر له مشر څخه زده کوي او په ځانګړي توګه پرې هله عمل درامد کوي چې له سختو سره مش اوګریوان شي.

ای مسلمانانو له شیعګانوڅخه وډار شئ او بیدار شئ په نجف او کربلا کې د شیعګانوڅه عقیده ده؟ او د هغوی په نیز یې زیارت څومره ثواب لري؟

شیعګان د خپلو امامانو د مزعوم او حقیقي قبرونو ځایونه په قابل دتقدیس حرم باندې پیژني دهغو په نیز کوفه ، کربلاء، او قم د حرم ښارونه دي.

له صادق علیه السلام څه روایت کوي: الله د مکې په نوم حرم لري، د هغه نبي یې د مدینې په نوم حرم لري، امیرالمؤمنین هم حرم لري چې کوفه ده، او قم زمونږ حرم دی.

د شیعګانو په نیز کربلا له کعبې هم بهتري لري، په (بحارالأنوار) کې له ابوعبدالله علیه السلام څخه نقلوي چې هغه وایي: الله کعبې ته وحي وکړه چې که د کربلاء خاوره نه وه تا ته به مې غوره والی هم نه و درکړی او که هغه څوک نه ول چې کربلا یې تر ځانه رانغاړي نو ته به مې نه وې پیدا کړې، او نه به مې هغه کور پیدا کړی و چې زه پرې فخر کوم، بې حرکته شه هیڅ رپ ونه

خوري، د کربلاء په وړاندې به ذلت او تواضع اختیار کړي او هېڅ ډول تکبر ونه کړي، ورنه درته به غصه شم او په جهنم کې به دې لولپه کړم.

بلکې د اسلام د پنځم رکن د حج له ثواب څخه هم شیعګان په کربلاء کې د حسین رضي الله عنه د قبر زیارت ډېر افضل او خیر ګڼي.

مجلسي په خپل کتاب (بحار الأنوار) کې د بشیر الدهان په روایت نقلوي وايي:

چې ما ابوعبدالله علیه السلام ته وویل: له ما څخه چې کله حج پاتې شي نو د حسین قبر ته راشم؟

هغه وویل: ای بشیره ! ډېرښه کار کوې، د اختر له ورځې پرته که کوم مومن انسان د حسین قبر ته په داسې حالت راشي چې په اړه یې حق معلومات لري، نو لکه د پېغمبر او یا عادل امام په قیادت کې چې یې شل قبول او منظور حجونه او عمرې کړې وي، او شل یې د هغه په ملتیا غزاګانې کړې وي،

او که د حسین قبر ته د عرفې په ورځ څوک په داسې حالت کې راشي چې په اړه یې حق معلومات لري لکه د مرسل نبي او یا عادل امام په قیادت کې چې یې زر قبول او منظور حجونه او عمرې کړې وي، او زر یې د هغه په ملتیا غزاګانې کړې وي.

غلو په کې تر دې حده رسېدلې ده چې عباس الکاشاني په خپل کتاب (مصابیح الجنان) د کربلاء اړوند نهایت زیات غلو په مقام کې وايي:

په دې کې شک نشته چې په اسلامي ځایونو کې کربلا ځانګړې قداست او دیني احترام لري، د نصوصو په اعتبار چې کربلاء ته څومره قداست او شرف ورکړل شوی بل هېڅ ځمکې ته نه دی ورکړل شوی.

کربلاء د الله مقدسه او بابرکته ځمکه ده، د خضوع اوتواضع ځمکه ده، د الله غوره کړې ځمکه ده او د پوره امن ځمکه ده، کربلاء د الله او د هغه د رسول حرم او اسلامي ګمبد ده، کربلاء هغه ځمکه ده چې الله پاک پرې خپل عبادت خوښګڼي او دې ته دعوت ورکوي چې د هغه عبادت دې پرې وشي، کربلاء د الله هغه ځمکه ده چې په خاوره کې یې شفا ده،کوم امتیاز او شرف او فضیلت چې د کربلاء خاوره او ځمکه لري بل هیڅ ځای یې نه لري ان چې کعبه یې هم نه لري.

## د عاشوراء په ورځ کې شيعګان څه عقيده لري؟ او دهغوی په نيز يې څه فضيلت دی؟

د محرم په لومړۍ لسو ورځو کې رافضي شيعګان د غم او ماتمونو لپاره د حسين رضي الله عنه په شهادت باندې د غم له کبله مجلسونو جوړوي، وېر او ژړاګانې پکې کوي، په عامو کوڅو او لارو کې په اجتماعي توګه په داسې حالت کې راوځي چې تور لباس يې اچولی وي، او عقيده لري چې دا الله ته د قربت سبب دی،په لاسونو باندې مخونه، او سيني او شاګانې وهي، د ياحسين يا حسين پر کلماتو باندې اوزونه په داسې حالت کې پورته کوي چې خپل کالي جامې هم څيروي او په ځانګړې توګه بيا د محرم په لسم باندې، تر دې چې په دې ورځ باندې په هغه ځايونو کې چې شيعګان پکې وسيږي په خصوصي توګه لکه ايران ځانونه په زنځيرونو او تورو باندې هم وهي، په دې ماتمونو يې خپل ديني علماء لا پسې راتېزوي چې له کبله يې نن د خلکو د خندا جوړ شوي دي.

د محمد کاشف الغطاء په نوم يې لوي شيخ څخه د سوکانو او څپېړو پوښتنه وشوه چې شيعګان يې کوي، هغه ووېل: دا د الله د شعائرو تعظيم کول دي (وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوبِ) ژباړه: څوک چې د الله د شعائرو عظمت او احترام کوي نو دا زړونو له تقوا څخه ده.



## د رافضه شیعګانو په نېز د (طینه) عقیده څه شی ده؟

له (طینه) څخه د شیعګانو په نېز د حسین رضي الله عنه د قبر خاوره مراد ده، د محمد النعمان حارثي په نوم لوی شیعه عالم چې په شیخ المفید هم شهرت لري، په خپل کتاب (المزار) کې له ابوعبدالله علیه السلام نه روایت کوي چې هغه وايي د حسین د قبر په خاوره کې له هر ډول رنځ او بیمارۍ څخه علاج دی، دا خاوره تر هر څه لوی دارو درمل دي رافضه شیعګان دا عقیده هم لري چې شیعګان له جلا او سنیان له جلا خاورې څخه پیدا دي.

په معینه توګه سره دواړه ډوله خاورې ګډې وډې شوي دي، په شیعګانو کې چې خومره ګناه او عصیان دی د سنیانو د خاورې له کبله، او په سنیانو کې چې خومره صلاح او امانت دی د شیعګانو د خاورې له برکته، د قیامت په ورځ به د شیعګانو ګناهونه او سرغړونې پر اهل السنت (سنیانو) باندې بار شي او د سنیانو حسنات به شیعګانو ته ورکړل شي



## په متعه کې د شيعګانو څه عقيده ده او څومره غور ده؟

او دهغوی په نيز يې څه فضيلت دی؟ د شيعګانو په نيز د متعې نکاح دې ته ويل کيږي، چې ښځه يا خپل ځان پخپله او يا يې وکيل يا ولي په هغه صورت کې چې جينۍ وړه وي –داسې سړي ته په معلوم مهر تر معلومې نيټې پورې ورکړي چې ورله حلاله وي، په دې شرط چې نسبي يا سببي مانع ونه لري لکه رضاعت، عدت او احصان العياذ بالله !!!

متعه د شيعګانو په نيزډير فضيلت لري، په کتاب (منهج الصادقين) د فتح الله کاشاني ليکنه کې له صادق څخه روايت کوي متعه زما او زما د پلارانو دين دی، که څوک متعه کوي زمونږ دين عملي کوي، او که څوک ترې انکار کوي زمونږ له دين څخه انکار کوي، بلکې زمونږ له دين څخه په بل دين روان دي، له حلالې منکوحې څخه د متعې څخه پيدا اولاد بهتري لري، له متعې څخه منکر کافر او مرتد دی.، قمي په خپل کتاب (من لا يحضره الفقيه) کې له ابو عبدالله عليه السلام څخه روايت کوي فرمايي:

الله زمونږ په ملګرو (شيعګانو) باندې هر ډول نشه يې شراب حرام کړي دي او په عوض کې يې ورله متعه ورکړې ده.

شيعګان د متعې لپاره د ښځو معين عدد باندې هم نه دي قايله په (فروع الکافي، التهذيب، الاستبصار) کې له زراره څخه نقلوي چې ما ابوعبدالله عليه السلام ته وويل: چې ايا متعه هم له څلوروښځو سره کول په کار ده؟

هغه وويل: زر ښځې هم د متعې په نکاح اخستی شې، هغوی (ښځې) خو

هسې په کرايه دي،محمد بن مسلم له ابوجعفر نه د متعې متعلق روايت کوي، چې په څلورو کې يې عدد محصور نه دی،ځکه چې نه دې ښځو ته طلاق ورکول کېدی شي، نه ميراث وړی شي بلکې دوی په کرايه نيول کيږي دا به لاڅنګه سمه وي او حالانکه الله پاک وايي: (وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ)

ژباړه: او (مومنان هغه خلک دي چې) دوی خپلو فرجونو لره حفاظت کونکي دي.

(إِلاَّ عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ)

مګر په خپلو بي بيانو او هغو وينځو لره چې د دوي ښي لاسونه يې مالکان دي نو دوی ملامته نه دي.

(فَمَنِ ابْتَغَى وَرَاءَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْعَادُونَ)

که له دې نه اخوا څوک تعدا او ظلم وکړي نو دوي له حده تجاوز کونکي دي

له ايت کريمه څخه په ښکاره ډول څرګنديږي چې ښځه د نکاح او يا وينځيتوب له لارې د انسان لپاره حلاليږي، او له دې اخوا نورې حرامې دي، متمتعه ښځه کرايه ګره ده او د نکاح ښځه نه ده، نه ميراث وړی شي او نه طلاق ورکول کيږي، العياذ بالله مطلب زناګاره ده.

له دې کبله يې مذهبي شيخ طوسي په خپل کتاب (تهذيب الأحكام) کې د شريف خاندان ښځې متعه ډېره بده ګڼلې ده، هغه وايي:که ښځه له شريف خاندان او عزتمندې کورنۍڅخه وي نو په متعې اخستل يې ځکه جائز نه دي چې د هغوی لپاره شرم دی او ذلت ورپسې تړل کيږي.

فضيلت شيخ ابن جبرين الله دي ورلره درجات بلند کړي ويلي دي: د متعې په حرام والي باندي د سنت مطهره نه دليل حديث ربيع بن سبره الجهني دی دی وايي چي پلار مي د نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره وو، چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ای خلکو مخکي مي تاسو ته په متعه کي اجازه درکړی وه، خو دمتعي نکاح الله پاک ترقيامته پوري حرامه کړه که دچاسره هم په متعه کي زنانه وي هغه دي خوشي کړي او چي هرڅه يي ورکړي دي بيرته تري مه اخلئ.

داحديث امام مسلم روايت کړی دی د حديث شميره ١٤٠٦



# په بیعت کې شیعګان څه عقیده لري؟

د اثنا عشریه شیعګانو له حکومت پرته رافضه شیعګان نور ټول حکومتونه باطل ګڼي، (الغیبة) د نعماني لیکنه کې له ابوجعفر څخه نقلوي چې هغه وايي: د قائم (منتظر مهدي) له راتګ مخکې چې څومره جنډې پورته کیږي نو چې څوک يې پورته کوي هغه طاغوت دی ، که حاکم من عندالله نه وي نو له تقیې نه بغیر يې اطاعت کول جواز نه لري، شیعګانو د خپلو امامانو نه بغیر نور په هر چا باندې د ظالم، جابر او داسې نور لقبونه لکه د قیات هیڅ اهلیت نه لري وغیره ږدي، او دا لقبونه دوي د مسلمانانو حاکمانو ته استعمالوي.

د دغو حاکمانو په سر کې خلفاء راشدین، ابوبکر او عمر او عثمان رضي الله عنهم ګڼي ، رافضي شیعه مذهبه ګمراه عالم مجلسي په خپل کتاب (بحار الأنوار) کې د خلفاء راشدینو متعلق وايي: غاصبین، ظالمان او له دین نه مرتدین دي، پر اهل بیتو باندې د لومړنیو او وروستنو ټولو ظالمانو باندې دې لعنتونه وي او پر هغه چا چې د دوی په لاره روان دي.

دا د شیعګانو د مذهبي عالم مجلسي وینا ده چې کتاب يې هم د شیعګانو په نیز د الله د پیغمبرانو وروسته په حدیثونو کې غوره ترین کتاب دی، د دې قانون له مخې يې هغه څوک هم طاغوت دی چې د مسلمانانو خلفاؤ تایید کوي، کلیني په خپل سند له عمر بن حنظله نه روایت کړي دي چې ما له ابوعبدالله علیه السلام نه پوښتنه وکړه چې که زمونږ د دوو کسانو ترمنځ په دین یا میراث کې جنګ جګړه راشي ایا قاضي یا سلطان ته يې فیصله ورلی شو؟

هغه وويل: که په حق يا باطل سره څوک دوی ته فيصله يوسي نو که څه هم حق وي خو حرام يې واخستل، ځکه چې د طاغوت فيصله يې ومنودله رافضيان ايکې يواځې له رافضي حکومتونو سره مينه لري.

له دې کبله دوی چې هر چرته کار کوي نو خپلو خلکو ته حکومتونو کې د کار زمينه برابروي ، او زيار اوباسي چې له دغې حکومتي کارونو څخه سنيان لرې تيل باسي ترڅو په هر چا باندې واکوال وي، الله دې د دوی له شر نه مسلمانان وساتي!

## د اهل السنت او شيعګانو ترمنځ د خلاف اسباب څه شی دي؟

نظام الدين اعظمي د خپل كتاب (الشيعة والمتعة) په مقدمه كې وايي: زمونږ او د اهل السنت ترمنځ اختلاف يواځې په فقهي مسايلو كې نه دی لكه متعه او بس.نا، بلكې تر منځ مو اصلي اختلاف اصولي اختلاف دی هو اختلاف مو ترمنځ عقيدوي اختلاف دی چې په دې نقاطو كې نچوړ دی:

رافضيان وايي چې قران ناقص او محرف دی اومونږ وايو چې قران د الله كلام دی ، پوره دی او هيڅ نقصان نه لري، او تر هغه به پكې كوم تبديل او تحريف ونه شي چې الله پاک ځمكه او څه چې پر ځمكه باندې دي په ميراث كې واخلي، او الله پاک هم دا فرمايي (إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ).

ژباړه: مونږ قران كريم ناز كړی دی او مونږ يې حفاظت په خپله كو.

رافضه شيعګان وايي: د لږ شمېر په استثناء د رسول الله صلى الله عليه وسلم له وفات نه وروسته صحابه كرام بېرته مرتد شوي دي او بېرته په شا ګرځېدلي دي، په دين او امانت كې يې خيانت كړی دی، او په خصوصي توګه بيا ابوبكر او عمر او عثمان رضي الله عنهم ، له دې كبله درېواړه د شيعګانو په نيز سرسخته كافران، ګمراهان او سركشه دي، خو ولې مونږ وايو: درسول الله صلى الله عليه وسلم صحابه كرام له انبياؤ وروسته غوره خلک دي، دوي ټول عادلان دي، هم په خپل نقل كې ثقه دي او هم يې په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې دروغ نه دي تړلي.

رافضه شيعګان وايي: دولس واړه شيعي امامان له ګناه او خطا څخه

معصوم دي، هم په غیبو او هم په ټولو علومو پوهیږي چې ملایکو، پیغمبرانو او رسولانو ته ورکړل شوي ول، هغوی په کانَ او ما یکون ټولو باندې علم لري هیڅ شی ترې پټ او پناه نه دی، هغوی د ځمکې په ټولو ژبو باندې پوهیږي، او زمکه هم د دوي ده.

خو ولې مونږ وایو: دوی د نورو په څیر انسانان دي او ورسره هیڅ فرق اوتوپیر نه لري، په دوي کې ځینې علماء، ځینې فقهاء او نور ځینې یې خلفاء دي، مونږ ورته د هغه څه نسبت نه کو چې هغوی یې دعوه نه وي کړې، بلکې هغوی له دې څخه منعه فرمایلې ده او براءت یې ترې اعلان کړی دی، د سنیانو موحدینو او د شیعګانو مشرکینو ترمنځ د سولې سلا څه حکم دی؟

د سنیانو او رافضي شیعګانو ترمنځ د سولې سلا اړوند سماحة الشیخ عبدالعزیز رحمه الله وایي:د سنیانو او رافضي شیعګانو ترمنځ جوړ جاړې هیڅ امکان نه لري، ځکه چې دواړه عقیدې سره بیلې او جلا دي، د اهل السنت والجماعت عقیده د الله توحید او خالص د هغه عبادت کول دي، نه به ورسره مقرّب ملائک او نه به ورسره مرسل پیغمبر په دعاء کې شریکولی شي.

په غیبو باندې ایکې یواځې الله پوهیږي، او له صحابه کرامو سره مینه او محبت کول، او عقیده لرل چې دوی له ابنیاؤ وروسته تر هر چا غوره خلک دي، په ټولو کې غوره ابوبکر او بیا عمر او بیا عثمان اوبیا علي رضي الله عنهم او بیا ټول دي.

خو ولې رافضه شیعګان ټول د دې ضد دي، لکه چې د عقیدوي اختلاف له کبله د اهل السنت او د یهودانو، نصرانیانو او بدپرسته مشرکانو ترمنځ جوړ جاړې نه شي راتللی، داسې له شیعګانو سره هم سوله سلا نه شي کیدی.

په رافضه شیعګانو کې د سلفو او خلفو اقوال:

أشهب بن عبدالعزيز وايي: له امام مالک نه د شيعګانو باره کې پوښتنه وشوه هغه وويل: مه ورسره خبرې کوئ او مه ترې روايتونه کوئ ځکه دوی دروغ وايي.

او امام مالک دا هم وايي:څوک چې د رسول الله صلیالله علیه وسلم ملګرو ته سپکې سپورې وايي نو بيخي د مسلمان نوم نه لري ، او يا يې داسې وويل : دوی په اسلام کې بيخي برخه نه لري.

ابوحاتم وايي: مونږ ته حرمله وويل چې ما له امام شافعي رحمه الله نه واورېدل ويل يې: ددروغو پر ګواهۍ باندې مې دشيعګانو په څېر نور څوک ونه ليدل.

عبدالله بن احمد بن حنبل وايي: ما مې له پلار نه د شيعګانو باره کې پوښتنه وکړه چې رافضه څوک دي: هغه وويل: هغه څوک چې ابوبکر او عمر ته کنځلې او سپورې ستغې وايي.

چا چې ترې د ابوبکر او عمر رضي الله عنهما متعلق پوښتنه وکړه هغه وويل:د رحمت کلمات پرې ووايه او څوک چې ورسر کينه کوي ترې برائت اعلان کړه.

خلال له ابوبکر مروزي نه روايت کړي دي چې ما له ابوعبدالله څخه پوښتنه وکړه چې ابوبکر او عمر او عايشې رضي الله عنهم ته څوک کنځلې کوي څه حکم لري؟ هغه وويل: بيخي مسلمان نه دی. زما مسلمانه وروره!! پر تا باندې واجب دي چې له شيعګانوځه وډار شئ او هېڅ ډول عمل درامد ورسره ونه کړې.

IslamHouse.com

islamhouseps IslamHousePs IslamHousePs islamhouse.com/ps/

For more details visit
www.GuideToIslam.com

GUIDE TO ISLAM

contact us :Books@guidetoislam.com

Guidetolslam.org Guidetoislam1 Guidetoislam www.Guidetoislam.com

المكتب التعاوني للدعوة وتوعية الجاليات بالربوة

هاتف: ٩٦٦١١٤٤٥٤٩٠٠+ فاكس: ٩٦٦١١٤٩٧٠١٢٦+ ص ب: ٢٩٤٦٥ الرياض: ١١٤٥٧

ISLAMIC PROPAGATION OFFICE IN RABWAH

P.O.BOX 29465 RIYADH 11457 TEL: +966 11 4454900 FAX: +966 11 4970126

***Download From; Aghalibrary.com***

*Download From; Aghalibrary.com*

# د شیعګانو عقیده

په دې کتاب کې د شیعګانو بعضې عقیدې د سؤال او جواب په شکل کې او د هغوي د معتبرو کتابونو نه په ډېر ښکلې طریقې سره بیان شوي دي.




IslamHouse.com

OsoulCenter
www.osoulcenter.com